**په حزب کې عمومي او خصوصي دندې**




د حزبي جوړښت (تکتل) کتاب په ۵۰ مخکې داسې راغلي دي (عربي چاپ):

ه- د ژوند د اړتیاوو قرباني کول: د اسلام او دعوت د لېږد لپاره یو بل خنډ د دنیايي ژوند، لکه د مال قربانول او یا د تجارت له لاسه ورکول دي. پر دغو ستونزو باندې د برلاسه کېدو لپاره مو باید په یاد وي چې الله سبحانه و تعالی له مومنانو څخه د جنت په بدل کې ژوند او مال اخیستی. همدغه یادونه باید بسنه وکړي او تاکنه باید اشخاصو ته ورکړل شي پرته له دې چې د دغو څېزونو قربانۍ ته اړ شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم عبدالله ابن جحش رضي الله عنه ته چې د مکې او طایف په منځ کې یې په نخلې سیمه کې د قریشو د احوالو لپاره موظف کړی و، په یوه لیک کې لیکي وو:

**«وَلاَ تُكْرِهَنَّ أَحَداً مِنْ أَصْحَابِكَ عَلَى الْمَسِيرِ مَعَكَ وَامْضِ لأَمْرِي فِيمَنْ تَبِعَكَ»**

له اصحابو څخه هیڅوک مه اړباسه چې له تا سره ملتیا وکړي، زما له امر سره سم له هغوی سره چې ستا پیروي کوي، مخ پر وړاندې ولاړ شه.

**پوښتنه دا ده:** په یو شمېر حدیثونو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم یادونه کړې، چې مسلمانان حتمي باید د خپل امیر پیروي وکړي او دا هغه څه دي چې موږ یې په حزب کې وینو. د حزب شباب اړ دي چې غوښتل شوې دندې ترسره کړي، که څه هم پر ده باندې یاد مسولیتونه درونډ پېټی وي او ورته د تېښتې هیڅ موکه په لاس نه ورځي، خو په پورتني حدیث کې ویل شوي چې دوی اړ نه دي یادې چارې ترسره کړي. څرنګه دا دواړه چې په تکتل کې د (ه) تر سرلیک لاندې راځي چې شباب اړ نه دي چې د امر له امر سره سم کار وکړي او نور حدیثونه وایي چې شباب باید د امر پیروي وکړي، دا دوې خبرې یو له بله څه ډول پرتله کوی؟ د پوښتنې د اوږدوالي له امله بخښنه غواړم. الله سبحانه و تعالی دې اجر درکړي.

**ځواب:**

**وعلیکم سلام ورحمته الله وبرکاته.**

۱- داسې ښکاري چې ته د دندو په موضوع کې ستونزه لرې. یو شمېر دندې داسې دي چې اړوند امر یې له خپلو ټولو مامورینو څخه غواړي، چې د ده له پیروۍ او شرعي حکمونو سره سم یې حتمي باید سرته ورسوي، لکه په اونیزو یا میاشتنیو حلقو کې ګډون کول، پر شرایطو برابرو خلکو سره تماس نیول او تفاعل ورسره کول. دا هغه څه دي چې د دوی د دندو په لایحه او نورو اداري مقرارتو کې بیان شوي دي. همدا رنګه ځینې نورې ځانګړې دندې شته چې یو شباب یا یوه ډله شباب یې د ترسولو کولو دنده په غاړه لري، لکه د یوه دولت مشر ته لیک لېږل، د هیئت په توګه یو متنفذ ته تلل، نوي خطرونه او اندېښنې سپړل، یا یو ظالم حاکم ته سپینه وینا کول یا د حزب له لوري لیک ورته سپارل او داسې نورې ځانګړې دندې. یادې دندې یواځې هغو کسانو ته سپارل کېږي، چې په خپله خوښه یې د سرته رسولو غوښتنه کوي. که یو څوک خوښ وي، نو ده ته یاده دنده سپارل کېږي او د خپلو نیمګړتیاوو په تړاو مسول دی، خو که خوښ نه وي نو دی بیا مکلف نه دی او نه هم اړ ایستل کېږي یانې هغه د یاد کار کولو ته نه مجبوره کېږي.

یاده موضوع په اداري مقرارتو د (متحدالمال/ځانګړو دندو) تر سرلیک لاندې بیان شوې ده: «هر څوک چې یوه ځانګړې دنده په خپله خوښه اخلي، دی هغې دندې ته ژمن دی او دا د منلو نه ده، هغه دنده یې چې په خپله خوښه اخیستی ده سرته ونه رسوي. که یاد کار یې ترسره نه کړ، نو دا د نوموړي پر نه کولو دلالت کوي او دی د یاد کار د نه کولو په تړاو د سزا وړ دی.)

تاسې پوهېږئ چې په پیل کې راغلي: « **هر هغه څوک چې په خپله خوښه دنده اخلي...، یانې که دی یې په خپله خوښه وانخلي، دی نه اړایستل کېږي او نه هم سزا ورکول کېږي.**

**۲-د دې لپاره چې دا موضوع ښه روښانه کړو، زه به د عبدالله بن جحش د سریې کیسه بیان کړم، ترڅو پوه شو چې هغه یوه عمومي دنده نه وه. د جګړې لپاره د مسلمانانو تټاکل، لکه د تبوک د غزا لپاره چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانان وټاکل. ځکه د صلی الله علیه وسلم هغو کسانو ته سزا ورکړه، چې وروسته پاتې شوي وو. ځکه دا یوه عمومي دنده وه او د امر پیروي کول په عمومي دنده کې حتمي دي.**

د عبدالله بن جحش په سریه کې د مسلمانانو ټاکل د عمومي جګړې لپاره نه وو، بلکې د یو شمېر محدودو خلکو لپاره یوه ځانګړې دنده وه، ترڅو **<u>په سختو حالتونو کې خبرونه راوړي. ځکه نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث د دوی د امر عبدالله لپاره دا و چې دی باید هیڅوک اړ نه کړي:</u>**

**په دلایل النبوة کې البیهقي له** ابن اسحاق څخه روایت کوي، ده وویل: «یزید ابن رومان را ته وویل چې عروه ابن الزبیر وویل: « رسول الله صلی الله علیه وسلم عبدالله بن جحش د نخلې سیمې ته ولېږه او هغه ته یې وویل:

**«کن بها حتی تأتینا بخبر من أخبار قریش»**

هم هلته پاتې شئ، ترڅو د قریشو خبرونه را ته راوړئ.

هغه صلی الله علیه وسلم عبدالله بن جحش ته د جګړې امر نه و ورکړی، ځکه هغه مقدسه او د حرم میاشت وه. هغه صلی الله علیه وسلم نوموړي ته له ځای ښودلو څخه وړاندې یو لیک ورکړ او په کې لیکلي یې و:

**«اخرج أنت وأصحابك، حتى إذا سرت يومين فافتح كتابك وانظر فيه، فما أمرتك به فامض له، ولا تستكرهَنَّ أحدا من أصحابك على الذهاب معك»**، فلما سار يومين فتح الكتاب، فإذا فيه :«**أن امض حتى تنزل نخلة بين مكة والطائف، فتأتينا من أخبار قريش بما اتصل إليك منهم»**

ته او ملګرې د لاړ شئ ترڅو دوه ورځنی سفر پوره کړی، وروسته لیک پرانیزه او ویې لوله او زما له امر سره سم مخ پر وړاندې ولاړشه او خپل ملګري مه اړباسه چې له تا سره ولاړ شي.

تر دوې ورځې سفر کولو وروسته یې لیک پرانیست او په لیک کې لیکل شوي و:

«تګ ته دوام ورکړه ترڅو د طایف او مکې ترمنځ نخلې ته ورسېږې او د قریشو په تړاو خبرونه راوړه لکه څرنګه چې مخکې له تاسره د دوی په تړاو خبرې شوي وې».

نوموړي رضي الله عنه خپلو ملګرو ته د لیک تر لوستلو وروسته وویل: «زه اورم او اطاعت کوم، هر هغه څوک چې د شهادت غوښتنه کوي له ما سره د لاړ شي، زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په امر مخ پر وړاندې ځم او څوک چې نه غواړي کولی شي بېرته ستون شي، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم زه د چا له اړ ایستلو څخه منع کړی یم، بیا نو خلکو له ده سره تګ ته دوام ورکړ...)

ابن هشام د سیرت په کتاب کې لیکي: «تر دوو ورځو سفر کولو وروسته عبدالله بن جحش لیک پرانیست او ویې لوست چې پکې لیکلي و:

**«إذَا نَظَرْتَ في كِتَابِي هَذَا فَامْضِ حَتّى تَنْزِلَ نَخْلَةَ، بَيْنَ مَكّةَ وَالطّائِفِ، فَتَرَصّدْ بِهَا قُرَيْشاً وَتَعَلّمْ لَنَا مِنْ أَخْبَارِهِمْ»**

کله د چې زما لیک ولوست مخ پر وړاندې ولاړ شه، ترڅو د طایف او مکې ترمنځ نخلې ته ورسېږې، له هغه ځایه قریش وڅاره او د دوی په اړه موږ ته خبر راکړه.

کله چې عبدالله بن جحش لیک ولوست، ده وویل زه اورم او پیروي کوم، وروسته یې خپلو ملګرو ته وویل، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته امر کړی چې د نخلې لور ته لاړ شم، ترڅو له هغه ځایه قریش وڅارم او هغه صلی الله علیه وسلم ته د دوی په اړه خبرونه راوړم او ده صلی الله علیه وسلم زه له دې منع کړی یم چې له ما سره تګ ته په تاسو کې څوک اړ کړم. نو هر هغه څوک چې شهادت لاس ته راوړي او د هغه غوښتنه لري، نو مخ پر وړاندې د ولاړ شي او هر هغه څوک چې نه غواړي بېرته د ستون شي. زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له امر سره سم مخ پر وړاندې ځم. دی مخ پر وړاندې ولاړ او د ده ملګري هم له ده سره مخ پر وړاندې ولاړل او **هېڅوک وروسته پاتې نه شو.)**

تاسو پوهېږئ چې دا یوه ځانګړې دنده وه، ځکه نو د دې دندې د ترسره کولو په موخه هیڅوک هم نه دي اړ ایستل شوی او یاده دنده د شهادت د ترلاسه کولو لپاره یوه دنده وه. په متن کې ویل شوي دي چې د دوی قومندان عبدالله دوی ته وویل: «رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته امر کړی چې د نخلې په لور ولاړ شم، ترڅو قریش وڅارم او د دوی په اړه هغه صلی الله علیه وسلم ته خبرونه راوړم او ده صلی الله علیه وسلم زه منع کړم له دې څخه چې څوک تګ ته اړ کړم. نو هر هغه څوک چې غواړي شهادت لاسته راوړي او غوښتنه یې کوي له ما سره د لاړ شي او څوک چې نه غواړي بېرته د ستون شي. زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له امر سره سم مخ پر وړاندې ځم. دی مخ پر وړاندې لاړ او د ده ملګري هم له ده سره یوځای مخ پر وړاندې لاړل او هیڅوک هم شاته پاتې نه شو).

تاسې پوهېږئ، چې هیڅوک هم شاته پاتې نه شو یانې که څه هم دوی اړ نه وو چې یاده ځانګړې دنده سرته ورسوي، خو هېڅا هم له دې کاره ډډه ونه کړه. الله سبحانه و تعالی د پر دوی ورحمېږي.

۳- اوس د تکتل (حزبي جوړښت) د (ه) برخې هغه یاد شوی پاراګراف ګورو: دا له امت سره د تفاعل تر سرلیک لاندې بیان شوی دی او د تفاعل پر وړاندې هغه خنډونه په ګوته کوي چې شباب یې سرته رسوي.

یاد پاراګراف **د دنیایي ژوند د قربانۍ د موضوعاتو** په تړاو بحث کوي، په داسې حال کې چې له امت سره د تفاعل کړنې ترسره کېږي. د تفاعل په پړاو کې ځانګړې دنده له خطرونو او اندېښنو سره مله ده او د دنیوي ژوند، لکه شتمنۍ، تجارت او داسې نورو د له منځه تللو شتونتیا هم پکې شته...

نو هر څوک چې نه غواړي **د تفاعل په پړاو کې ځانګړې دنده ترسره کړي**، دی نه اړایستل کېږي، خو دی کولی شي چې عامه چارې ترسره کړي، خو ده ته د تقوا یادونه کېږي او ورته ویل کېږي چې الله سبحانه و تعالی د مومنانو ژوند او شتمني د جنت په بدله کې له دوی څخه پېرلي دي. همدغه یادونه بسنه کوي او د **قربانۍ** انتخاب د خلکو په لاس کې دی...

تاسو پوهېږئ، چې یاد متن د قربانۍ په تړاو بحث کوي ځکه چې ځانګړې دنده له ستونزو ډکه ده.

**۴-په پای کې ویلی شو چې شباب نه اړ ایستل کېږي چې ځانګړې دنده ترسره کړي، خو عامه دندې باید په ژمنتیا سره ترسره کړي او د شریعت له احکامو سره سم د خپل امر پیروي تر هغه وخته وکړي چې ورته امر کوي.**

هیله لرم چې په تړاو به یې پوهېدلی یې او الله سبحانه وتعالی تر ټولو ښه خبر دی.

**ستاسې ورور عطا بن خلیل ابو الرشته**

**پوښتونکی: محمد عبدالبصیر**

**۱۴۴۰ هـق، د سفرې ۲۰ مه**

**۲۰۱۸ م، د اکتوبر ۲۹ مه**